(١)

**روژه د نیکیو نږدی والي او د الله تعالی له لوري د رحمتونو میاشت ده**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: {لَّيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ} ژباړه:« نېکي يوازي دا نه ده چې تاسي (د لمانځه په وخت کي) خپل مخونه ختيځ لوري ته واړوئ، يا لوېديځ لوري ته؛ بلکي نېکي دا ده چې انسان پر الله، د قيامت پر ورځ، پر پرښتو، د الله پر نازل کړای شوي کتابونو او د هغه پر پېغمبرانو د زړه له کومي ايمان راوړي. او د الله په مينه کښي خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، مسافرو، درويزګرو او د مريانو په ازادئ مصرف کړي، لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي. او نېکان هغه کسان دي چي کله وعده وکړي تر سره يې کړي او د تنګسې او غمونو په وخت کښي او د حق او د باطل په جګړه کښي صبر وکړي، همدا رښتيني او همدا پرهېزګار خلك دي»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکئ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

يقينا د روژي مبارکه مياشت د عبادتونو رحمتونو او د فرمانبردارئ مياشت ده، دا د روژي د شپي لمونځونو نږدی والي مينې محبت همکاريو نيکيو او پرهيزګارئ مياشت ده، پدې کې د مسلمان لپاره په صبر حساب

کتاب او د الله تعالی له لورې د څارنې آزمیښت دی، روژه دار لوږه تنده تیروي د نفسي خواهشاتو مخنیوی په سختیو باندې صبر کوي، همدارنګه په بیلابیلو عبادتونو باندې الله تعالی ته ځان نږدی کوي لکه د قرآن کریم لوستل د الله تعالی ذکر د شپې لمونځونه خیراتونه د خلکو ترمنځ سوله او د هر هغه ښیګڼې لپاره هڅه کول چې د هیوادونو او خلکو په هې کې ګټه وي، او دا هغه احسان دی چې بنده پرې د الله تعالی رحمت را جذبوي لکه چې الله تعالی فرمایي: «إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ» ژباړه:« په یقیني توګه د الله رحمت نېکانو ته نژدې دی.»، او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: «په ریښتیني سره خیره او ښیګنه ګنجینی دي، او دا ګنجینې کلي ګاني لري، نو خوښی د هغه چا پر حال وي چې الله تعالی هغه د خیر کلي او د شر قلف ګرځولی، او هلاکت دی وي په هغه بنده باندې چې الله تعالی هغه د شر کلي او د خیر قلف ګرځولی دي».
د روژې مبارکه میاشت د خیر ښیګڼې او نیکو کارونو کې د سیالۍ لپاره ډکر دی چې بنده ګان پکې الله تعالی ته د نږدی والي لپاره په نیکو عملونو باندې سیالي کوي، په روژه کې به د نبي کریم صلی الله علیه وسلم همدا حال وو، د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم په خلکو کې ترټولو ډیر سخي وو، او زیات سخاوت به یې د روژې په مبارکه میاشت کې چې کله به یې د جبرییل علیه السلام سره لیدلو سرته رسولو، او د روژې مبارکې میاشت په هره شپه کې به یې ورسره لیدل او د هغه څخه یې قران زده کولو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خیر کې تر سخت باد نه هم سخي وو.
نو د روژې مبارکه میاشت یو پراخه وخت د ښیګڼو کولو لپاره دی، په خاص ډول سره خواړه ورکول فقیران او مسکینانو ته چې دا کار ددې مبارکې میاشتې د ښښو او د دین د ځانګړتیاو څخه دی، عبدالله بن سلام رضي الله عنه فرمایي: کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته راغي نو د هغه نه خلک ډیر په چټکې سره وتختیدل او زه هم

د دغه خلکو د جملي څخه وم، نو کله مو چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څيره وليده پوه شوم چې دا د درواغجنو څيره نده، نو د هغه خبرو ته مي غوږ کيښود نو يي وفرمايل: اي خلکو! بی سرپرستو ته خواړه ورکړئ او پخپل منځو کې سلام ورکول خپور کړئ، او صله رحمي وکړئ، او د شپې په هغه وخت کې لمونځ اداء کړئ چې ټول خلک ويده يي، نو پدغه کارونو سره په سلامتيا جنت ته ورداخل شئ، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا خبري څلورو خصلتونو ته شامليږی، چې دری خصلته يی د خلکو ترمنځ اړيکو پوری تړاو لري، او هغه عبارت دي له: خواړه ورکول، د سلام خپراوی، او صله رحمي لرل دي، او څلورم ډول ددی خصلتونو څخه د الله او د بنده ترمنځ اړيکي پوري تړاو لري چې هغه د شپې لخوا لمونځ اداء کول پداسي حال کې چې ټول خلک ويده يی، يو سړي د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه: کوم اسلام غوره دی؟ وی فرمايل: اړمندو خلکو ته خواړه ورکول، او د سلام خپرواي هر هغه چاته چې هغه پيژنو يا نه پيژنو.

انسان بايد هيڅ يو نيک کار کم او کوچنی ونه ګني، ځکه چې هغه نه پوهيږي چې الله تعالی کوم کار خوښوي، پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: هيڅ يو نيک کار تاسو کم مه شميرئ هغه که يو چاته د پړي ورکول يي، او يا هغه که چاته د خپل لوښي نه يو څوک چې اوبه غواړي اوبه ورکول يي، او يا دا چې يو ضرر رسونکی شي د لاری څخه لري کول وي، او يا دا چې د خپل مسلمان ورور سره په خلاص تندي ليدل وي او هغه ته سلام ورکړي، او يا دا چې يو غمجن شخص سره د ځمکي په سر په مهرباني رفتار وکړي، او يا دا چې يو شخص تاته کنځل وکړي او ستا عيب برملا کړي او هغه څه چې په تا کې دي په هغه پوه وي، او ته هم د هغه په عيب پوهيږي خو ته هغه ته کنځل ونکړي نو تاته اجر درکول کيږي او هغه ته ګناه ليکل کيږی، په بل ځاي کې فرمايي: «په هر مسلمان صدقه ده»، يو چا وويل: که يو څوک صدقه ورکولو ته شي

ونلري نو څه وکړي؟ وی فرمایل: پخپل لاس دی کار وکړي او د هغه نه خپله ګټه پورته کړي او صدقه ورکړی، وویل شو: او که کار ونشي کړی بیا څه وکړي؟ وفرمایل: اړمند سره دی مرسته وکړی، وویل: او که داسي یي ونکړ؟ وفرمایل: نورو ته د ښه کار او عدالت امر وکړی، وویل: که داسی ونکړی شي؟ وفرمایل: هغوي د بدو او شر کارونو څخه منع کړي، دا ددی لپاره صدقه ده.
مونږ پردي ټینګار کوو چې ښیګڼه کول یو جامع اسم دی چې ټولو خو خصلتونو او ټول هغه ښه فعلونو ته شامليږي چې د الله تعالی د رضایت او د خلکو د ګټي سبب ګرځي، او دا ټول په نیکو اخلاقو کې راجمع کیږي، نو د همدی ځایه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ښیګڼه او نیکي د نیکو اخلاقو په معنا دی، همداسی په وعدي وفا کول او د نورو په برتري او ښه کارونو اعتراف کول د هغه نیکو اخلاقو له جملي څخه دي چې یواځي ښه انسانان هغه لرې یو شاعر وایي:

وفا کول یو سخی انسان ته فرض دی* ځکه چې بخیل انسان وعده خلافه دی.
ته ګوري چې سخی انسان هر چا سره په رفتار کې انصاف خپله کسب ګرځوي.
اما بخیل انسان ګوري چې هیڅکله انصاف خپل کسب نه ګرځوي.
او بل شاعر وایي:
په ریښتیني سره کله چې سخي انسانان یو مقام ته ورسیدل او مال یي لاسته راوړ.
د هغه کسانو یادونه کوي چې هغوي یي د غریبی په وخت کې پیژندل.
د نیکی کولو د لویو شکلونو څخه د خلکو ترمنځ د صله رحمی پیدا کول او د خپلو خپلوانو ګاونډیانو، او د ټولو خلکو ترمنځ د اړیکو رامنځته کول دي، او دغه موضوع د مینه محبت الفت او مهرباني او د خو اړیکو د

رامنځته کولو د ټولو خلکو ترمنځ او د مهرباني د ارزښتونو د خپراوي يو لوي سبب دی، نو د روژې مبارکه مياشت هيڅ د بخيلانو او د بخل مجال ندی، که چيرته د روژې مبارکه مياشت د اړيکو مياشت وي نو ددغو اړيکو په سر کې دوه امره موجود دي: يو صله رحمي ده، او نبي کريم صلی الله عليه وسلم د هغه مقام او مرتبه په قدسي حديث کې چې د الله تعالی نه روايت دي بيان کړی:«زه الله يم، زه رحمان يم، صله رحمي مي پيدا کړی او د خپل د نومونو څخه مي هغه ته غوره کړی، نو کله چې يو څوک هغه سره وصل شي نو زه د هغه سره وصل کيږم، او څوک چې هغه پرې کړي نو زه د هغه نه خپله اړيکه پرې کوم»، بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: که چيرته غوښتل مو نو د الله تعالی دغه وينا ولولي:« فهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ * أُولَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ * أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا» ژباړه:« اوس ايا ستاسي څخه (ای منافقانو) له دې پرته نور څه هيله کېدای شي چي که قدرت په لاس درشي يا (د اطاعت څخه) په شا واوړئ، نو په ځمکه کښي به فساد برپا کړئ او پخپلو منځو کښي به خپلولۍ (او يو د بل سرونه) غوڅ کړئ؟* دوی همغه خلك دي چي الله ورباندي لعنت وکړ او (کاڼه، ړانده) يې کړل.* يا دوی پر قُرآن غور ندی کړی، يا که پر زړونو باندي يې قلفونه وهل شويدي؟»، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: په هره دوشنبه او پنجشبه کې د انسانانو عمل الله تعالی ته وړاندي کيږي، نو پدغه دوو ورځو کې چې هر بنده الله تعالی ته شريک رانه وړ الله هغه ته بخښنه کوي، مګر هغه شخص ته بښنه نکوي چې د هغه او د ورور ترمنځ يي دښمني وي، نو ويل کيږي: دا دواړه پريږده چې سوله وکړی.
او نبي کريم صلی الله عليه وسلم صله رحمي د ايمان د ستنو څخه يوه ستنه ګرځولی ده، د عمرو بن عبسه څخه روايت دی چې وايي: د بعثت په لومړنيو ورځو کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته ورغلم او و مي

ویل: ته څوک یي؟ وی فرمایل:« زه د الله رسول یم، ومی ویل: د خدای رسول څوک وي؟ وی فرمایل: د الله لخوا را لیږل شوی، ومی ویل: ایا ته الله تعالی رالیږلی یي؟ وی فرمایل: هو ومی ویل: په څه څیز یي ته را لیږلي یي؟ وی فرمایل: پدی چې یواځې د الله تعالی عبادت وشي او هغه سره څوک شریک پیدا نکړي، او بوتان له منځه یوړل شي، او صله رحمی رامنځته شي»، نو صله رحمي یي د ایمان د نښو څخه ګرځولي لکه چې فرمایي:«څوک چې په الله تعالی او د قیامت په ورځې ایمان لري نو باید صله رحمي ولري»، او پدی امر الله تعالي پدغه مبارک ایت کې تاکید کړی دی چې فرمایي:« وَأُوْلُواْ الأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللهِ» ژباړه:« خو د الله په کتاب کښي خپلوان (د میراث د ورلو د نظره) یو د بل زیات حقدار دي».
بل اړخ هم د خو اړیکو لرل دي، د اړیکي لرل د هر هغه چا سره چې زمونږ شاوخوا اوسیږي، په هغه ډول سره چې د هیچا سره باید صله رحمي پری نه شي، څکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی:«ښه کار ندی چې یو مسلمان ورور د بل مسلمان ورورنه تر دری ورځو ډیر مرور شي، نو کله چې یو بل ته مخامخ کیږي یو د بل نه مخ اړوي، او د هغوي نه غوره هغه دی چې مخکې سلام وکړي»، دا پدی معنا نده چې یواځې هغه په لاری وګوري او هغه ته سلام وکړي، بلکي په هغه بشپړه معنا سره چې د سلام کلمه هغه ته شاملیږی د هغه په ډول رفتار وکړی، څکه چې سلام کول باید واقعي سلام ووسي، نه یواځې شکلي چې یواځې په ژبې سلام وکړي او پداسی حال چې په زړه کې د هغه نه کرکه لري، بلکي سلام باید د هغه د زړه نه د نفس سره د ملګري، کورني، ګاوندي، هر انسان، حیوان، جمادات او بلاخره دټول وجود سره وي، څکه چې الله تعالی فرمایي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلاَ تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِين»ژباړه:« اې مؤمنانو! تاسي په هر اړخیز ډول

په اسلام کښي ننوځئ او د شیطان پیروي مه کوئ، چي هغه ستاسي ښکاره دښمن دی».

اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم
*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.
ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:
د الله تعالی د حکمتونو څخه دا دی چي د روژې مبارکي میاشتي آخرنۍ لس ورځې او شپي يي د نیکانو لپاره د خیر او ښیګڼي د زیادت لپاره ګرځولي، او کوتاه کوونکی هغه څه درک کړې چي ورڅخه تیر شوي دي، دا الهي مهربانیو او د رب له لورې د عطایاو څخه ډکي ورځې دې چې الله جل جلاله د خپلو بنده ګانو لپاره د نیکیو ډکي ورځې ګرځولي دي، نو هر مسلمان باید هڅه وکړې ترڅو د الله تعالی د رحمتونو څخه برخمن شې، لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: یقینا الله جل جلاله د کال په ځانګړو ورځو کې خپلي مهرباني او رحمتونه په تاسو باندی نازلوي نو تاسو کوښښ وکړئ چې دغه رحمت او مهرباني لاسته راوړئ ځکه چې که چیرته په تاسو کې کوم یو دغه  مهرباني او رحمت لاسته راوړي نو هغه هیڅکله هم نه بدبخته کیږي، همدي لپاره نبې کریم صلی الله علیه وسلم د روژې په آخرو لسوشپو او ورځو کې زیات عبادت او طاعت کولو او د الله تعالی لورې ته یي رجوع کوله.

د هغو چارو څخه چې مونږ ته لازمه ده د روژې په آخرنۍ لسو شپو او ورځو کې سرته ورسوو د شپې لخوا عبادت دی ترڅو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په نقش قدم باندې ولاړ شو نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدغو لسو شپو او ورځو کې د نور وخت په پرتله ډیره هڅه او عبادت کولو، حضرت عائشې رضی الله عنها ویلی: پیغمبر صلی الله علیه وسلم په آخرنۍ لسو شپو او ورځو کې به د خپلو میرمنو څخه جلا کیدلو او زیات عبادت به یې کولو، په بل روایت کې راغلي پیغمبر صلی الله علیه وسلم د روژې په آخرنۍ لسو شپو او ورځو کې تر بل هر وخت عبادت زیات کولو.
الله تعالی د روژې آخرنۍ لسو شپو ته یوه بله ځانګړتیا ورکړې ده او یوه داسې شپه یې بکې ګرځولې ده چې غوره او بهتره ده چې دا د قدر شپه ده او دا د محمد صلی الله علیه وسلم امت ته د درناوي لپاره الله تعالی ګرځولې ده، د مجاهد رضی الله عنه څخه روایت دی یو ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بني اسرائیلو د یو شخص یادونه وکړه چې د الله تعالی په لاره کې یې زر میاشتې د جهاد لپاره وسله وګرځوله دی وایې مسلمانانو تعجب وکړلو نو بیا یې وویل چې الله تعالی دغه آیاتونه نازل کړل چې فرمایي: {إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ * لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ * تَنَزَّلُ المَلاَئِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ * سَلاَمٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الفَجْرِ} ژباړه: «موږ دا (قرآن) د قدر په شپه نازل کړیدی، او ته څه پوهیږې چې د قدر شپه څه ده؟ د قدر شپه له زرو میاشتو څخه ډیره غوره ده؛ پرښتې او روح (جبرئیل ع) په هغې کښې د خپل رب په اجازه هر حُکم اخلي راکوزیږي، هغه شپه له سره تر پایه، تر سهار ختلو پوري سلامتیا ده»، نو په اخلاص سره پدغه شپه کې عبادت کول د الله تعالی په لاره کې د زرو میاشتو د جهاد څخه غوره دی.
نبي کریم صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې پدغه شپه کې عبادت کول د ګناهونو د بخښنې لامل کیږي، پدې هکله نبي کریم صلی الله علیه وسلم

فرمايي: څوک چې د قدر په شپه په بشپړ ايمان او يقين سره عبادت وکړي د هغه مخکيني ګناهونه به بخل کيږي، نو همدې لپاره مسلمان باندې لازمه ده چې ددغه لويي شپې څخه ګټه پورته کړي ترڅو الله تعالی ته ځان نږدی کړي او بخښنه ورته وشي، پيغمبر صلی الله عليه وسلم مونږ هڅولي يو ترڅو د قدر شپه په آخرو لسو تاقو شپو کې ولټوو ځکه چې پدغه شپه کې الهي کرم او عطا بې شميره وي لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: د قدر شپه په آخرو لسو تاقو شپو کې ولټوئ.

پدغو ورځو کې د مهمو نيکو کارونو څخه د سرسايي ويستل دي چې د روژه دار لپاره پاکي د بي وزلو او مسکينانو لپاره خواړه، د ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی وايي پيغمبر صلی الله عليه وسلم سرسايه د لهو او لعب جګړي څخه د روژه دار د پاکی او د بي وزلو او مسکينانو د غذا لپاره فرض کړی دی څوک چې دا د اختر لمانځه څخه مخکې ادا کړي قبول شوی صدقه ګرځي او څوک چې د اختر لمانځه څخه وروسته ادا کړي د صدقو د جملې څخه ګرځي.

پدغو شپو او ورځو کې د نيکو کارونو څخه بل هم زيات دعا کول دي، که څه هم د روژي په مبارکه مياشت کې دعا قبليږي خو په آخرو لسو شپو او ورځو کې زيات قبليږي، د حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روايت دی وايی ما وويل ای د الله رسوله! ستاسو په آند که چيرته وګورم چې د قدر شپه مي وليدله نو څه ووايم وی فرمايل: دغه دعا ووايه: ای الله ته بخښونکی او کريم ذات يي او بخښنه خوښوي ما ته بخښنه وکړه.

مونږ ټول بايد هڅه وکړو ترڅو ددغو مبارکو ورځو شپو څخه ګټه پورته کړو او د قدر په مبارکه شپه کې ذکر دعا د قرآن تلاوت او هر هغه کار ترسره کړو چې الله تعالی ته پرې نږدی کيږو ترڅو د الله تعالی د رحمتونو څخه محروم نشو ځکه چې پدغه مبارکه شپه کې محروميت حقيقي محروميت ګڼل کيږي لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: د الله تعالی لپاره پدي کې يوه شپه ده چې د زرو مياشتو څخه

غوره ده ځوک چې ددې ښیګڼې څخه محروم شي په حقیقت کې هغه محروم کړای شوی دی.

ای خدایه ته بخښونکی ذات يي او بخښنه خوښوې نو مونږ ته بخښنه وکړې.